# ماشومانو مقدس کتاب

## وړاندې کونکے



# بنکلې ملکه استر

لیکونکے: Edward Hughes

خیال: Janie Forest
Alastair Paterson

خوښونکے: Ruth Klassen

ترجمه کونکے: Aim4Faith Ministries

مددگار: Bible for Children
www.M1914.org

©2024 Bible for Children, Inc.
تاسو دا قیصئ نقل کولے شئ یا چاپ کولے شئ خو دا خرخولے نۀ شئ.

یو ځل ډېره ښکلې استر نومې یوه جینۍ وه. کله چې د هغې مور پلار وفات شول، نو د هغې رشته دار مردکی د هغې پالنه کوله. هغې د خپل رشته دار لکه د یوې ښې لور په شان تابعداری کوله.





استر په فارس کښې اوسېده. خو، استر فارسۍ نه وه.
هغه يهودی وه. د هغې پلار نيکونه د جنګی قېديانو په طور
فارس ته راغلی وو. د استر په زمانه کښې، ډېر يهوديان په
فارس کښې اوسېدل.

د فارس بادشاه د دنیا ټولو شهزادګو د پاره یوه لویه
میلمستا جوړه کړه. سړو د هغه ښځو نه
جدا روټۍ وخوړه چې
وشتی ملکې سره په
دعوت کښې شریک
شوی وو. شرابی بادشاه
وشتی ملکې ته حکم
وکړو چې شاهی تاج په
سر کړی چې د هغې
ښایست وښائی. وشتی
ملکې انکار وکړو.



دې ښکاره کولو د پاره چې
ښځې دې د خپلو خاوندانو
تابعداری کوی، بادشاه يو
قانونن منظور کړو چې د
هغې په وجه وشتی ملکې
نه تاج واخستے شو. اوس
هغه شهزادګی نۀ وه.



د یوې نوې شهزادګۍ
لټون شروع شو. د
بادشاهت په ټولو ښائسته
جینکو کښې، بادشاه استر د
خپلې ښځې په طور خوښه
کړه. هغهٔ د هغې په سر شاهی
تاج کېښودو. استر بادشاه ته دا
ونهٔ وئیل چې هغه یهودی ده
ځکه چې د هغې رشته دار
هغه د داسې کولو نه
منع کړې وه.



او د مردکی نوم
د بادشاه په کتاب
کښې ولیکلے شو.



رشته دار مردکی به خپل
وخت د بادشاهت په دروازه
کښې تېرولو چې د استر نه ځان
خبر وساتی. یوه ورځ هغهٔ د محل
د دوو خادمانو خبرې واورېدلې
چې د بادشاه د وژلو منصوبه ئې
جوړوله. مردکی یو خبردارے
ور ولېږلو چې د هغې په وجه
د بادشاه ژوند بچ شو. خادمانو
له پانسی ورکړے شوه،

د بادشاه وزير هامان يو مالدار سړے
وو. کله چې به هامان تېرېدو نو ټول
به ورته سلام د پاره ټيټېدل. ټول
خلق. صرف د يو سړی نه علاوه. د
يو يهودی په طور، مردکی صرف د
ژوندی خدائ عبادت کولو.



هامان د مردکی نه دومره نفرت کولو چې د هغهٔ او د فارس د ټولو یهودیانو د وژلو فېصله ئې وکړه. څومره یرووونکې خبره وه! چالاک هامان د بادشاه نه په یو کاغذ دستخط واخستو چې په خاص وخت باندې دې په بادشاهت کښې هر یهودی ووژلے شی.





دا یو خطرناک
قانون وو. یهودیانو او
فارسیانو دواړو ماتم وکړو.
خو یاد ساتئ. خدائ پاک استر
نه ملکه جوړه کړې وه. او هغه
یهودڼه وه. آیا هغه به دا خبره
بادشاه نه پټه وساتی؟ یا، هغه به
د خپلو خلقو د بچ کولو د پاره
خپل ځان هم د مرګ په
خطره کښې واچوی؟

خدایٔ د استر په زړهٔ کښې د حکمت نه ډک خیال راوستلو. هغې بادشاه او هامان له په یو مېلمستیا کښې بلنه ورکړه. هلته بادشاه هغې سره وعده وکړه چې هر څهٔ غواړې نو وې غواړه. استر جواب ورکړو، سبا، دې بادشاه او هامان میلمستیا له راشی. نو بیا به هغه بادشاه ته ووائی چې څهٔ غواړی.



په دې دوران کښې، هامان
د مردکی وژلو د پاره یوه
لویه سولۍ تیاره کړې وه.



پہ دغه شپه بادشاه اودهٔ نهٔ شو. د عدالت تفصيل لوستلو سره
هغهٔ وکتل چې مردکی ته د هغهٔ د ژوند
بچ کولو پہ بدله کښې هيڅ انعام نهٔ دے
ورکړے شوے. بله ورځ سحر، بادشاه
د هامان نه تپوس وکړو، د هغه
سړی د پاره څهٔ کول پکار دی
د چا نه چې بادشاه



خوشحاله وی؟ هامان
خوشحاله شو. د هغهٔ دا
خيال وو چې ګنې بادشاه د
هغهٔ پہ باره کښې سوچ کوی!



هامان بادشاه خواته د مردکی د پانسئ اجازت
اخستلو له راغلے وو. سولۍ او هر څۀ تيار
وو. اوس هغۀ نور انتظار نۀ شو کولے. په
خوشحالۍ سره، هامان جواب ورکړو. هغۀ ته
دې شاهی لباس
واچولے
شی او
تاج دې
ورته په سر
کړے شی.

او د خپل عزتمند مشر په لاس دې سړی ته
شاهی لباس ور واغونده او د ښار په کوڅو
کښې ئې په آس باندې سور بوځه. چې بادشاه
د چا درناوے کول غواړی نو هغه يې داسې
عزت کوی.



بادشاه هامان له حکم ورکړو چې زر کوه، او
څۀ چې دې ووئیل هم داسې وکړه. اس واخله
او مردکی یهودی سره چې په دروازه کښې
ناست دے همداسې وکړه.



ستاسو په خیال هامان به څهٔ محسوس کړی وی چې
کله هغه په په ټول ښار کښې د مردکی داسې
عزت کوی؟ د هغهٔ په زړهٔ کښې د مردکی
نه نور نفرت هم پیدا شو. هامان سوچ
وکړو چې بس
لږ انتظار
کوه. ډېر
زر به هغه
هم د نورو
یهودیانو سره
ووژلے شی.



بیا وروستو په دغه ورځ، هامان
او بادشاه د استر میلمستیا له
راغلل. بادشاه ترې تپوس
وکړو، ستا څهٔ سوال دے؟ هغهٔ
خپله وعده نهٔ وه هېره کړې.
هامان طرف ته ئې اشاره وکړه،
او استر ملکې بادشاه ته د هامان
د ټول سازش په حقله ووئیل.
بادشاه ووئیل چې هامان دې په
هغه سولۍ راځوړند کړے شی.



بیا بادشاه یهودیانو د پاره د خپل ځان بچ کولو اجازت د پاره یو بل قانون منظور کړو. هغوئ بچ شول! مردکی د بادشاه وزیر جوړ شو او ټول یهودیان خوشحاله وو او یو بل له ئې ډالئ ورکولې. تر نن ورځې پورې، یهودیانو ته یاد دی چې خدائ هغوئ څنګه د ښکلې ملکه استر په ذریعه بچ کړی وو.



بنکلي ملکه استر

دَ خدایٔ په کلام په مقدس کتاب کښې دا قیصۀ

شته دے

استر

"ستا دَ خبرو تشریح نُور بخښی ۔"
زبور 130:119

ختم شو

30

60

دا قیصۍ مونږ ته زمونږ د حیرانونکی خدائ په باره کښې ښودنه کوې چې چا مونږ پیدا کړو او چې څوک غواړی چې هغه مونږ وپیژنو.

خدائ پوهیږی چې مونږ ډیر غلط کارونه کړی دی، چې هغې ته هغه ګنا وایې. د ګنا مزدوی مرګ دے خو خدائ مونږ سره ډیره مینه کوې نو ځکه هغهٔ خپل یک یو زوئ راولیږلو چې هغه زمونږ د ګناهونو د خاطره سزه وزغمې او په سولۍ خپل ځان قربان کړې.او بیا عیسی د مړو نه ژوندے شو او آسمان ته لاړو. کهٔ تهٔ په عیسی باندې ایمان راوړې او د هغهٔ نه د خپلو ګناهونو بخښنه غواړې نو هغه به تا ته بخښنه وکړې. هغه تا خواته راځی او ستاسو دننه به استوګنه کوی او تهٔ به هغه سره د همیشه د پاره ژوندے اوسیږی.

کهٔ تهٔ په دې ایمان لرې چې دا رښتیا دی نو خدائ ته ووایه.خوږه عیسی زهٔ ایمان لرم چې هم تهٔ خدائ یې. تا زما د خاطره پیدا شوې او زما د خاطره مړ شوې او اوس تهٔ د تل د پاره ژوندے یې. زما په ژوند کښې راشه او زما ګناهونه وبخښه، چې زهٔ هم د نن نه ژوندون ومومم او د همیشه د پاره تاسره یم. زما مدد وکړه چې زهٔ ستا تابعداری وکړم او ستا زوئ یا لور جوړه شم. آمین مقدس کتاب ولولئ او خدائ سره روزانه خبرې وکړئ، یوحنا۳:۱۲